مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

م .کرګر ۲۰۲۴/۰۲/۲۲

د استاد جنید شریف د یومشهور شعر په څنډو کې:

ای خوبه لیونتوبه!

دا هم داستاد جنید شریف یو نوی شعر دی . دا شعر په شعر کې شعر دی . یا دا چې نه یوازې شعر بلکې یو له طنز،استعاري نه مالامال داستان هم دی . شعر خو ځکه ورته وایو چې دخیال وزري یې ډېرې پیاوړي دي او د موجود مکان نه ډېر لېرې په کهکشانونو کې پرواز کوي ، خو دا پرواز یوازې پرواز نه بلکې انځورونه او تصویرونه هم له ځانه سره لري . هغه کیسه کوي ، یا داسې چې لوستونکي تیاتر ته بیایي . په لومړي قطار کې یې کښینوي اوبیا ورته دیو باتور اولس دژوند خندنې درامه مخې ته راولي . ددې درام لوبغاړي حاجي کامران او شادګل نه دی چې وزه یې له پرې نیولي او په لاره رهي وي . بلکې د "رجاله وو" دشرمیدلو کړو نه مالامال داستان دی . هغه داسې ځېرې دي چې په قوت سره دانسانیت ،قهرمانۍ ، هیواد پالنې ،خپلواکۍ اونورو نوروڅه دعوه کوي.خو په درام کې دهغو مسخ شوی ځېره بربنډیږي . مظلوم ملت همدې لاروي ته ورته له ورایه چې په درام کې رول لوبوي خاندي ،ملنډې پرې وهي اوورته وایي : "نور نو څه غواړي؟ ، پرتوګ دي په اوږه کړه او درومه " .نندارچي ټولې صحنې له نړدي ګوري . اوهغه لیونتوب چې ان هرج مرج یې سر کاوته کړي یا دا چې ګډوډي او بې نظمي هم ورته دلیدو تاب نه لري ، له لیونتوبه یې هم ډېر زیات لیوني کړي دی، په دې درام کې ګورو . دا قهرمان اویا دا کرکتر چې په یوه ځېره کې راټول اوتمرکز یې کړي تاسې یې په پای کې پیژندلی شی چې دا ساده دجلالاباد وزیر ګل نه دی او نه خو د دمیرویس میدان تاجور لیوني ده بلکې دلیونتوب استعاره کله هم وتلي او بې کچې لوړ موجود ته هم کارول کیږي.

هر چا کی لیونتوب شته
خو ستا په دنیاکی کې
پخپله هرج و مرج لیونی شوی
ددې حکمت به څه وي چې ویده شي
څپې د سمندر در نه چاپیرشي
پوهان وایی خوبونه تجربې د وړکتوب دي
نو ما په وړکتوب کی سمندر چیرته لیدلی؟
خاپوړو کې مې تیږې درونټه کې اچولې
خو بحر چی می ولید انګریزي می زده کوله
کالج د سمندر په غاړه پروت و
یوسف پشتون به ناست و او باجه به یی غږوله
سندري به نادر آتش ویلې
اتن کې خان مامد د لشکرګاه بالکل استاذ و
روهي صیب به ټپې تحلیلولې

په زړه پورې خو دلته ده چې شاعر د تحت الشعور نه را پورته شوې ماضي را سپړي . خوبونه وایي . دسمندر څپې لکه دکتاب پاڼې یوه په بلې پسې اړوې . اوپه همدغه څپو صفحو کې ددې تاتوبې دخلکو ژوند ته ،ذوق ته ،هنر ته اوتېرو کړو وړو ته ورځې او هغه یو په یوه راپورته کوي . هو نو هغه هم یو مهال و چې :"اتن کې خان مامد دلشکر ګاه بالکل استاد و".

شاعر هم د دې اوږده شعر او خیاله ور اثر په بندونو کې یو وار سر را ښکاره کړي، چې خپله کیسه وکړي او دخپلو تېرو خاطرو یادونه وکړي ، خو ساده یادونه نه ، بلکې داشارو او سمبولونو په مټ دحالاتو او د وروستیو پیښو دشاه لید منظره وي چې څنګه هر څه په خوب کې تیر شول . اوځنګه دیو وطن هنر ،موسیقي ، او فرهنګ تالا والا شو.لیونتوب ډېر کارونه وکړل . شاه شجاع یې پاچا کړ یو وار نه بلکې څو څو واري . خوب دی، لیونتوب دی داسې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوب چې تصور کوي چې ګويا ژوندي دي حال دا چې ژوند ژوند نشته . مرګ دی او د مرګ ژوندی تصوير . نو زه هم همدا خوب مخاطب کوم، ورته وايم اې خوبه!
ته په ښځتيا دشاعر او ددې کرښو دليکونکي او دخپلو لوستونکو دوطن حال نه يې ؟ ايا د هماغه وګړي چې دپيړيو په واټن کې يې نسلونه يو پر بله راغله اولاړل دهغو ټول او بيان نه يې ؟ايا کله کله خو په هنري اثر کې اوپه يوه هنرې پديده کې د يو اولس مونيك يا واحده ځيره نه را برسېره کيږي ؟ همداسې ده . اويوه بله خبره دا هم ده. د دې داستان راز هم دی چې د پرون دحالاتو په اوږو دنن کيسه کوي خو د دننيو نوم نه اخلي .دا هم يو کمال دی چې دپرونيو په ځېره کې دنن داستان بدرګه کوي . خو شاعر چې زړه يې درد کوي ، دا انديښنه هم ورسره شته چې وايي : ای اولسه بل کار دې نشته چې شاه شجاعګان راته زيږوي؟ دا څه پيښه ده ؟ هغه په قوت دا پوښتنه رامنځ ته کوي وايي:
ای وخته بيرته راشه يو افغان وزيږوه _ميرويس يا احمد شاه او يا امان وزيږوه.
شاعر په وخت باندې هم سترګي راباسي ، قهر يې راځي په وخت يې قهر را ځي . دومره پاتې ده چې ووايي : ای زمانه ! ولې دې دا اولس د ناکسو په لاس ريز مريز کړ؟
نو ځکه وايي:
منم چې ډير ژوندي اصل کی مړه دي
خو مړو کی دې بل څوک پيدا نه کړ
چې شاه شجاع دې راوست؟
په قار و
کنځلي يی کولې، په فارسي.
پښتو يې نه وه زده
هو پښتو يې زده خو نه وه . خو دعوه يې کوله کلکه ، چې زه يم ددې خاورې مالك . دلته کيدای شي چې پښتو يوازې ژبه نه وي ، بلکې د"ننګ اوقلنګ" قانون هم وي چې د تهران په سفارت کې پس پسی او دسيسه دهغه قانون خلاف کاري ده . شاه شجاع دذلالت او غلامي يو بې شرمه سمبول هم دی . خو دا سمبول هغو ته چې دشاه شجاع ته ورته کار کوي هم اطلاق کيږي . په لږ توپير چې شاه شجاع دخپل ټبر دود نه پريښوده او په کور کې يې دښځو غوبل جوړ وو ، خو وروستني بيا داسې نه و . يوازې يو يو جانان ورته بس کيده . اودښکلو ارزانی ته هم چا پرې نه ښوده
.
"غريبې ده اوس خو يو يو جانان بس دی + چې دښکلو ارزاني شوه بيا به ګورو"
--رښتينی پاچا زه ومه که ته وې؟
تهران په سفارت کې پسپسی او دسايس
د شاه زمان په بر عليه باندې تا کړي که ما؟
لمسی د شاهنشاه احمد خان زه ومه که ته وې؟
تاريخ اوبيا زموږ تاريخ دعجيبو درامو او عجيب و غريبو کارنامو ټول دی . کلونه وشول . پيړۍ تيرې شوې نسلونه تباه شول، خو هغه دمالکيت دعوه هغه دتاج وتخت دمالکيت دعوه دچا له ياده ونه وتله . ځيني انسانان اويا ځيني کرکترونه خو داسې هم وي چې دچپني اوکراکري سره او دکاليو اوموزو اوبوټانو سره دخلکو په سترګو کې ننوزي ټول نسلونه په مړو شميري .يوازې ځان ورته ژوند ی بريښي ،ځان ورته بارکزي بريښي حال دا چې وي به ،خو دا مالکيت تري په منډه لاړ. خبره اپوټه شوه. اوس ساده وګړي په زغرده ورته وايي زه بارکزي نه يم .ما دسکندر لينګي مات کړي دي . مغلو ته مې دسر په کاسه کې اوبه ورکړې ، ما دانګريز دوه نيم زره "بدلمني" چې له بنګال نه يې راوستي وي ،تس نس کړي دي. عسکر اوپوځونه يې لا څه کوي.
خو ته ای اولسه ! د دوراني او غلجي درقابتونو له ککړې او بويناکې لوبې خلاص نه شوې؟ هر يو په خپل ځان ويارې .هر يو من دی .چارکې هيڅ نشته.
دې رقابت ته چې هر چا پوه کی ورکړې دی.ډېر مکار اودګيدړ نه هم هوښيار و، ځکه چې همدې سيالي اولس دپولې پرك ته کښيناوه .هره ورځ يو دبل وينې بهوی . او دراني کاکو او غلجی کاکا ورته ناست دې تماشه کوي. خو دا کاکو کاکا لکه د کوکا کولا بوتلونه چې له قدرت سره ليوني مينه لري . اوان دبهرنيانو په سفارتونو کې سودا اوچني هم وهلې شي . نورو کوچنيو قومونو ته چې کارنامې يې تاريخ ته يادي دي هغوی په څه ناڅه يا په وزګارو ځوکيو خوشالوي.
ما وې ته وده وده
زه ځوک يم؟
زه تاته بارکزی ښکارم؟
خو زه بارکزی نه يم
ساپی يم.
مغل می تښتولې، مامد زې مې ډارولې
له ډاره مامد زو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هر چيرته چې چوکۍ وزګاريدله
ساپو ته به يې ورکړه
نو په دې ترتيب په دې شاهکار اثر کې خبره دسمندر له تل نه يا دجمعې شعور د تل نه پورته را ځي. دهر چا دپوهاوي له پاره اسانيږي . چې داوږدې ږيږي او اوه ښځو خاوند مخاطب کيږي . دا اشا دځمکې سر ته راځي او ځان دجهان دځمکې اواسمان سردار بولي دا داسې څوک دی : چې د زيږون په لومړي ورځ يې په غوږونو کې دغلامۍ اذان شوی ، پخه تجربه لري . د درې شيانو وړی اوتږی دي . دنيچه خبره چې هم دشهوت غلام دی ،هم دقدرت غلام، اوهم دثروت غلام . په ظاهره خو دعوې د معنويت کوي . خو په واقعيت کې دمعنويت دوښمن دي . حريص دی . وړي سترګې لري. نودقدرت يا اقتدار غلامي هغه دې ته را بولي چې ځان خو يې لا پخوا پلورلي او هغه بل واکدار خو بيا وايي ځان په دې خبره خلاصوي چې : وار له واره تېر دی . په همدې اعتراف کوي چې زما په لاس کې تش يو صلاحيت و . نادان وم ،احمق وم . اوداسې نور . دمکناټن دعريضو سر کاتب اومحرر هم چې ورته تم کيده او ولاړ و.ناڅاپه دبې واکه واک خاوند شو . دا صلاحيت نه وو چې هغه ته بيا اور شو .خوله په يوه کوټه کې . ځپلې په بله او مصاله (جای نماز)په بله . ځغله چې اوس نه ځغلي نو کله ؟.
خو شاعر په هغه بل هم غږ کوي:
خو اې د دې اوږدې ږيږي او اوو ښځو خاونده
تا ولې د پردو په نوکرۍ کې ځان زبون کړ؟
وې ورک يې که
ربښتيا که درته ووايم نادان وم
زما په لاس کې تش يو صلاحيت و:
مکناټن ته ليکل د عريضو
ربښتيا که درته ووايم
ساپې يې، درانی يې، مزاری يې
کافر نورستانی يې
په خوله به دې ټاپه وي په لاسو کې زولانا
قسمت که دې پاچا کړي د پردو په يارانا
نويارانو! خبره دلته ده.دپردو په يارانه پاچا کېدل لکه "استمناء" داسې ده . چې هم په دين کې ناروا ده اوهم په سادين کې . اوس که ته دهر خيل او دهرې تپې اړوند يې . نو حمزه بابا دغه تپې ته "له جرګو سره نه درځي". حمزه بابا وايي:
وړم مستقبل ته د ماضی روايات
زه د خپل حال د ولولو سره ځم
څــو چې راغوند په يو مرکز يې نه کړم
هرې تپې ته د جرګو ســره ځم
خو تاسو ای غلامانو ! د ويش نه په تالان خوشالو ، دهغه کليوال سړي بيلګه نه ياست چې روژه يې خوړلې اوملايانو چپه په خره سور کړی و . خلك اوچړيان ورپسې روان وو ، هغه روان خلك مخاطب کړ وې ويل : "وښښئ چې زه سور يم اوتاسو پلي را روان ياست ؟" ټولو وخندل يو تن ورناري کړې : پروا نه کوي . مورِ نه غواړو مخ مو تور شي . نو لنډه دا که دهر خيل يې، اودهرې تپې اړوند ياست ، چې دپردو په يارانه پاچا شی، نو بس د ماشومانو دګودې اويا نانځکې په څير به لوبيږي . دا قسمت يو ډير ذليل بخت دی . ذليل برخليك دي چې خاوند يې بيا له شرمه دسترګو ليد له لاسه ورکوي . سترګې يې کار نه کوي . عقل يې هم سرسامه کيږي . ځکه چې دپردی دمزدورۍ خوند خو وې داسې ! بيا خو د"ننګ او دقلنګ" په ټولنه اوچم ګاونډ کې دپردي نوکر ،دپردي نوکر دی بل څه نه! . د تومت زنځير به تر ابده پورې په غاړه وړي . په هديره کې يې هم څوك نه پريږدي او نه يې په کلي کې څوك په ختم اوخيرات کې پريږدي.
))پردی مزدور سهار وختي پاڅيږي+ د شوګـــيرو مين اوده پاتې شي((
پردې مزدور پردی مزدور وي .هغه که هر ډول تفسيراو ترجمه کوي ،يوازې دهغه پورې اړه لري . دکلي ملك يې په خوله پياز قدري هم نه خوري . که دملت جوړولو داستان شرح کوي . که نوی فرضيې او نوی طرحې ورکوي . نو دستيج پر سر يې هم څنګ کې نه پريږدي په يو لاس يې کښته کوي . ملت جوړولو خبره به سمه وي چې په کتابونو کې به يې ښه تفسير وي . اراده به يې سمه وي خو له دي نه هم انکار ناشوني دي چې دا اولس چې په ملت بدل نه شو ، سبب يې هم دا "شياطين روی زمين" و. دا ځکه چې هغه متل دلته صدق کوي چې وايي : "قران به هر څه وايي خو که ملا شاه ګل يې ومني ." حال دا چې ملاشاه ګل ډېرې بدې سترګې لري .هغه ډير حريص دې هغه دچا دپوهې ،هوښيارۍ او بل څه خيال نه لري، بس يوازې دخپل

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جيب په غم کې وي او دی . حالتونه بدليږي . داوباما علاقه داري ختميږي ترمپ را ځې . هغه له اولي ورځې ډيرتوګاښ په غوټه لاس وهي . او لکه دجلګي ... چې کپړ يې شلولي وي . په هيڅ اړ نه وي . دخپلې مور بمونه هم اچوي .يو ملت يو باتور اولس هغه ته دوايګرا د پاکټ په اندازه اهميت نه لري.
يو شپه دې اوباما باندې ميلمه کړم؟
نو ما په ښه فصيحه انګريزي تقرير شروع کړ:
ملت جوړول کيږي خو په دې شرط....
وي نه نه نه
که زه کوم ملت جوړکم نو خپل ملت به جوړ کم
چې ويښ شوم ترمپ راغلی و
لګيا و خپل ملت يې ړنګاوه
نو ای خوبه ليونتوبه !ارښتيا چې دمکاره بازار په "متاع" او سوړ سپيرکيو لکه چې اوس هم نه يې پوهيدلې ؟ دا ډير رنګين بازار دی . په دې بازار کې نارينه د بودې له ټاله تيروي په يوه ښکلي نجلۍ يې بدلوي چې له سينګار اوسينګار ځای نه پرته په بل څه نه پوهيږي اونه له بل څه سره شوق لري . د ښو کليماتو او مفاهيمو لکه وطن ،وطن پرستي ، اسلام پالنه ، ازادي او خپلواکي ،جهاد اومقاومت اونورو نه ښه کار اخيستي شي. که ماکياول را ژوندي شي اود دې "رجاله و"کارنامه له نړدي وګوري . نو به چمتو شي چې د دوي سبق ته کښيني اود خپل "شهريار "کتاب نا بشپړي برخې بشپړي کړي.يا يو بل فصل په کې زيات کړي . ځکه رجاله چې په غلامي کې تخصص لري ، له هر چا زيات د بادار په خدمت کې چمتو کيږي . دې ته چمتو وي چې بس وايي : ته امر کوه زه به يې عملي کوم . نوبيا دحاکميت او د وطن اونورو مسايلو په کيسه کې نه وي . بس دبادار خبره مني چې هر څه به کوي. دهمدې موخې دعمل لپاره يې تش په نامه حاکميت هم کمزوري کړ.جان کيري لکه دواده ووقې يوې اوبلې خواته مندې کړي اوحق يې ورته تثبيت کړ . همدا لړۍ وه چې وروسته هر څه ته درناوی وو، خو حاکميت ته نه وو . حاکميت په واقعيت کې پاشل شوی وو. دا ځکه چې په راتلونکي کې نور پلانونه وو، چې وليدل شو څومره په برې سره عملي شول.
لوی بادار دهر څه حق چارواکو ته ته ور کاوه خو دسياست کولو نه . ځکه چې دا مهره يې دځان لپاره ساتلي وه . په ټينګار به يې ويل چې هر څه کوه خو په سياست کې به ګوتي نه وهي . دا هم لکه چې څوک يې ماشوم ته وايي : چې له دوه شيانو ځان ژغوره !يو دلوخ برښنا مزي نه اوبل له سياست نه. په همدې لړ کې حاکميت شړوونکي دومره زړور شو چې له خپلو نادودو څخه په شاه نه شول . اوپه قهر به يې ويل : "ولا اګه توته توته هم شوم،حق خودرا خواستنې هستم ." نو اوس به دا ايجړا چيرته وي چې سړي ورته ووايي . هغه له دريم منزل له زيني ځخه چې به راکښته کيدلي او په تلويزيون صفحاتو کې به تمثيل
کيدلي ،ولې حق نه غواړي؟ خو مالومه ده چې دا خوارکی به اوس خپلو دريشيو ته حيران وي او چمتو دې چې دنکتايي پر ځای دتبرك له پاره د.....پرتوګاښ وتړي.
بله خوا بيا په دې رمز اوکرشمه پوهيږي چې يو بل سياستمدار ورسره ميز ته کښينوي دا هم ورته وايي چې بس نو همداسې اوسه لکه بت . تاته نور له خولې نه سوړ ويستل کفر دی . غرض به نه کوي.
اې خوبه ليونتوبه
ته ډير ځله يو بل سياستمدار را سره ميز کې کينوی
خو ستا داسې دستور دې
چې څوک دې په سياست خبرې نه کوي
راځې را سره کينې
پټکی يې په سر نه وی
پتلون يې کاوبايی
څپلی په ځای بوټونه
ددې کوټې نه ها کوټې ته ټوپ وهی
ميټنګ تنظيموي او راپورونه ټولوي
په دې کې څه حکمت دی، ليونتوبه؟
يو مشر، ولسمشر سره کينه، سياست ورسره مه کوه؟
نو اوس خو به لوستونکي هم په اصلي خبره پوهيدلی وي ؟ چې ولې يې له سياست پرته نور هر څه کول. دسياست په ګډ ناست خو سياست مه کوه بلکې "مياست" کوه . شاعر په مهارت دا ټپه را تداعي کوي چې وايي:
يابه مې دا ياري ياري شي اويا به مې سر دغرغري شمال وهينه".
له دې نوره خبره نه شي لوڅيدلي . بيواکه ښاروال چې يوازې دګلپيانو اوټيپرو په بيه او نرخ ټينګار کوي ، ښار پريږدي اوخپل سر لکه د سينګار دستکول په تخرګ کې له کوټې بهر کيږي . اورومرو به اوس دحافظ شيرازي دا شعر هر يو ښاروال زمزمه کوي چې وايي:
دمی با غم به سر بردن جهان یک سر نمیارزد

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

به می بفروش دلقِ ما کز این بهتر نمیارزد
به کوی می فروشانش به جامی بر نمیگیرند
زهی سجادهٔ تقوا که یک ساغر نمیارزد
رقیبم سرزنشها کرد کز این باب رُخ برتاب
چه افتاد این سر ما را که خاکِ در نمیارزد؟
شکوهِ تاجِ سلطانی که بیمِ جان در او دَرج است
کلاهی دلکَش است اما به تَرکِ سر نمیارزد
چه آسان مینمود اول غمِ دریا به بوی سود
غلط کردم که این طوفان به صد گوهر نمیارزد
تو را آن بِهْ که رویِ خود ز مشتاقان بپوشانی
که شادیِّ جهانگیری، غمِ لشکر نمیارزد
چو حافظ در قناعت کوش و از دنیایِ دون بگذر
که یک جو مِنَّتِ دونان دو صد من زر نمیارزد
دا خبره بيخي اوس روښانه ده چې پادشاهي ګاني دسندرو بدلول دي . دلغمان دګله کي استاد سروکي دي چې ټپه پسې ټپه او ورپسې بيا سروکي وي چې ويل ېي:
دوبار به نه کرم دسپند د غاړې ګلونه + چې باغ مي جوړ شي رانه يوسي سيلابونه.
ته دسپند پوري زه را هوري + نامردي څه له را ته ګوري + اوربل جاله که دواړه زلفي تنابونه
نو اوس په لوستونکي لږ څه پوهيدلي وي:
اصلي خبره داده وروره جانه
چې ته په ليونتوب کی هم هوښيار يې
پوهيږې چې دده نه زه پوښتنې نه لرم
چې ولې دې ښار پريښود، ته ښاروال وې
چې ولې دې دا ښکلی سر شمال د غرغړې نه دی وهلی
ته پوه يې ليونتوبه او زه پوه يم
چې دا پاچاهي ګاني د سندرو بدلول دي
ټپو پسې سروکي
هغه پسې داستان
داستان پسې چرګ بانګ
د هر سړي دوره مازې د دوو ساتو پيره ده
چې ستا پيره ختميږي
د بل دا شروع کيږي
دلته کې ټول پوهيږي ملک څوک دی مولا څوک دی
او واک د چا په لاس کی دی
اصلی خبره دا ده وروره جانه
دا پرې د هډوکو، دا ځنځير د ښامارانو
دا تور د ميرمامې١ چې د ايرو لاندې لمبه ده
دا ټپ څو غزيدلی ددې غرونو په سينا
ملت هسی ارمان دی، د کوچنيانو ترانا
نو هغه دشاعر خبره ده چې وايي: " اوس پرې پوه شولي اولسه دا دځه لپاره جنګ دی ؟." اوکه په دې هم نه ياست پوهيدلي نو بيا انتظار باسه چې مهدي موعود راشي ، يا دقيامت په ورځ اسرافيل درته غوږونه په خپله شپيلی کاڼه کړي . هلته چې بيا طبيب هم نه وي چې دغوږونو دراپ (چک) در واچوي نو په شپيلی کي به درته ووايي :والبعث بعدالموت .نو بيا به شاته ګوري او ځان سره به حيران يي چې دا څه وشول؟ خو همداسې خو اوس وشول دهماغه داستان يو مجسم اوبالفعل داستان همدا هم دي . خو که دپيل په غوږ کي ويده نه يي ، نو لاپې شاپې اوډوزي دې پريږده . اشغال اشغال دي . يو څوک ،يو اولس ،خاوره اشغال کيږي يا بيا ازاديږي، خو زما بخت داسې نه دی ، چې له اشغال نه خلاص شو . موږ نه يوازې اشغال يو ،بلکې داشغال پسې اشغال يو . ښه ورځ مو ونه ليده دا ځکه چې ای خوبه ليونتوبه!
نو کله به زموږ له سترګو والوزي چې خپل ځان ووينو او مقابل لوري هم ووينو . دا لا څه کوي . چې په ذهني لحاظ خو داسې اشغال يو چې ان نومونه مو خپل نه دی . دا پيرۍ پيرۍ وشوې چې عبدالقدوس يو اوعبدالرووف يو اوکله خو عبدالقهار هم يو . اوان ميرمني را ته له ورايه غږ کوي چې ای اغه ! ای دماشومانو پلاره او ای !!! دا ځکه چې له هر څه زياته دذهن جغرافيه اشغال ده . اوداسې عسکرو پکې خيمه وهلې ده چې بس هر څه خپل ملکيت بولي"

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو اشغال په مکناتن پیل نه شو له پخوا اشغال وو ، اوهغه چا چې مورِ اشغال کړو اوس يې دزيارت ډبرې په ځان مښو او جنډې يې ورته په سرو اوشنو توټو درنوو. نو ځکه شاعر ګرم نه دی زړه يې براس کوي اود عرب ،مغول ،ترك انګريز او رنګريز او پرنګ اواترنګ کارنامې يادوي . اودمغولو له زهرو ډك خټکي هم را يادوي . د ملك اوخان په جيبونو کې پيسې منډې . شاعر خو ليونې نه دی چې خوشحال بابا را يادوي ، او دبازيد روښان په باره کې فکر کوي او بل اوبل . بلکې دتاريخ هغه پاڼې را اخلي او يادونه يې کوي چې حواشيي يې نه دې کښل شوي . شاعر يې له لاپو اودوزمارو کليماتو سره کار نه لري ، بلکې نا ليکل شوي حواشي يې را سپړي.
دخوشحال بابا يو امتياز هم دا وو چې ډېر ژر وپوهېده اوبر اعلاې يې په خپل اولس نيوکه وکړه : وې وېل:
اتفاق په پښتانه کې پيدا نه شو
ګنې ما به دمغل ګريوان پاره کړ
هره چاره دپښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورځخه نشته ډير ارمان
پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دی
کوټه سپې دقصابانو دجوس دي
اوښ له باره سره کور ته دی ورغلی
په ولجه داوښ دغاړې دجرس دي
پښتانه په توره ښه دي تر مغلو
که په پوهه پښتانه واى څه هوښيار
نو شاعر دلته بې زغمه شوی چې درته وايې اى خوبه ليونتوبه!
دسر په قلمرو کې دې څه شته دی اوکه نه ؟ نو داشغال دپاى مانا نشته ، ناورين پسی ناورين دی . هره دوره کې يو مرجونا پيدا شي . اوهغه بيا داسې کارنامې ته اوړه ورکړي: يا بهرام دخوشال زوی شي بدنامي پريږدي وطن ته .يا خليل شي ماضي هيره کړي يوازې دحال ژوند غوره وبولي او دمور ټيکري ليلام کړي . نو دادی زمورِ برخه چې هم شاعر سرسامه کوي اوکه لوستونکي پرې په سمه مانا خبر شو نو هغه هم ليوني کيږي . نو اى خوبه ليونتوبه!
اى خوبه ليونتوبه
ته پوه يې او زه پوه يم
اشغال نه دی پيل شوی په مک ناټن
اشغال به ختم نه شي په کا ليل زاد
دا ځمکه يونانيانو اشغال کړې
دا ځمکه عربانو اشغال کړې
ترکانو اشغال کړې
مغل خو کور په کور کلی په کلي ګرځيدل
چې چاته جاګير ورکی
او ځوک په خټکو باندې مارِه کې ۲
اورنګ لا ختم نه وچې پيرنګ ورپسې راغی
پيسې د ملکانو په جيبونو کې منډل-
انګريزد مغلانو نه زده کړې وو
او وروسته سی آى اى د انګريزانو نه مېنوټ کړل
انګريز لا نه و تللی چې اشغال د پنجابيانو په مونږ پيل شو
چې يو شريف به ووت بل به راغی
شريف لاړ مشرف ورپسې راغی
هغه چې لاړ بيا بل شريف پيدا شو
اوس وار دی د جاويد شريف
چې يو قدم په وړاندې لاړشو لس قدمه بيرته
عجبه داده چې اوس نو اى خوبه ليونتوبه!
"بدمرغه هغه وينځه چې دوينځي کالي وينځي . " اوس وار د تور لينګيو دی چې شرافتونه (!) يو په بل پسې را زيږوي ، کله مشرف شي کله شريف شي همدا دجاويد شريف "داهسته برو " سندره ده چې کله مخکې کله شاته شي ،
کيدی شی مطلب دا شعر وی چې:
سور سالو په سرکه په مکيز باندې روانه شه
ځه کړه وړه لکه د زرکې خرامانه شه
خو دا کورِ وورِ تګ نه وو داسی شاته ولاړ چې بس مه کوه پوښتنه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورِ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو ځکه خو شاعر د خيال وزرې لا پسې په قوت کاروي ، دزمانو شاته درومي اونورې کيسې دخيال په وزرو سوروي . يوه خبره دا هم ده چې يادونه وکړم چې تاريخ اوبيا زمور دهيواد تاريخ دپښتو يو لړ دی داسې لړ چې دپرمختګ دعوه يې په کار نه ده بلکې د مداريانو له بمبولې نه په کې عجيب وغريب ماران را بهر کيږي او شاعر هغو ته په ښه شان اشاري کوي . لکه چې وايي:

دا ځمکه خو اشغال ده
کلتور مو هم اشغال دی
ماغزه مو هم اشغال دي
پالنګ دلته ناکام دی
بيلتون دلته ارزان دی
خيام دې سلطنت کې خپل شعرونه سوزلي
کافر دې خلافت کې په اسنادو تکفير شوی
آسونه د سپرلو په نصيونو په غوسه دي
اوښان دلته چارتراش په اوږو وُړي
ځنګله نه مرور دي
سرتور دلته د کومې کيږدی زوم دی؟
دې سره بيديا کی ځان کلابند کړی
خو پام کوئ پوتين تری خبر نه شي
پناه به ورته ورکي او اوکراين کې به يی ښخ کړي
غريب عرب په کوم جنګ کې شهيد شو
چې ښکلې ځوانه کونډه يی
کوم شل او شوت موزي ته واده کيږي
سويډن نه يو سوډر ورته پيدا کی
چې لاړه شي کوزده شي
او وروسته د داعش په آس سپره شي
هيلی دلته د کومې دجلې لور ده؟
چې تکې شنې بنکې يی په وچه کې لمدي دي
په شنه جيپ کې ليږديږي د نخرو په بهانا
ستومانه سر يی ايښی د ښکاري په زنګانا

په پورته ابياتو کې مور ډير داستانونه درمز په ژبه وينو: هر څه اشغال ، خاوره اشغال ، تاريخ اشغال ، ماغزه(که چيرې کوم خورد پاتې وي) لا له مخه اشغال دی . تاسو ممکن دا پوښتنه وکړي چې دا ماغزه نو څنګه اشغال کيږي . خبره روښانه ده که شاعر په هر متن کې دا خبره کړي وي خوله ما سره خپل تفسير شته . اوهغه دا چې خپل ژوند ،ماضي حال اومستقبل ته مو فکر نه شته خو کوم شی چې په دا دولس ديارلس پيړيو کې زمور مغز ته پمپ شوي دي هماغه مو کلك نيولي دي . ناکام پالنګ ، ارزانه او وړيا بيلتون اوجلا والي . خيام هم چې د بغاوت سمبول دي ، خپل کتابونه اوشعرونه سيزي . مستند تکفير . اوښان چارتراش په اوږه وړي . اوله ځنګله نه خپګان.

نو زمور شاعر هم دغني خان د د دې شعر په اقتفا اشاره کوي وايي:

خوب وينم عالمه که ئې څوک راکړی معنا
پروت يم سر مې ايښې د خپل يار په زنګانه
خوب وينم چې پورته په هوا لکه د باز شومه
کيناستم په بام د محمود سترګې د اياز شومه
پورته د خاموش زړګی نه خور د مينې ساز شومه
خرڅه مې په حورو کړه د دمو زمانه

يا:

يا يو موټې خاوره وم يا لوی درياب د نور شومه
خو بانګ د سحر اوشو زه راويښ شوم په رکوع شومه
خوب يوړه خوبونه را ژوندئ شوه زمانه
وې پريوزه ليوانيه تيراوه دې جيلخانه

دا ټول ناتار چې را دبره اولاسبري شو . هغه انسان چې که په ټوله کې هماغه څه وو چې له الوتکو پورې ومښت او بيا کښته را ګوزار شو ، زړه يې پرك وچاوده . لوستونکي به فکر وکړي چې ګويا هغه څو تنه زلميان وو ، چې داسی کانه پرې وشوه . خو که ژورو ته سر ورښکاره کړو په واقعيت کې ټول هغه ملت (چې جوړيدو ته چا پرې نه ښوده) هماغسې له الوتکو را وغورځيد . د پوتين لوبه لا پر ځای پرته ده . هغه يې لاره څاري چې څه به کيږي ؟ نو هغه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ملت چې له هوا نه دځمکې مخ ته نه بلکې دځمکې تل ته ولوييد . اوس د القاعدي اوداعش منګولې پرې ښخيږي . او د وطن مور به له پورتنې پرته هغه سودګر ته په نکاح کيږي . دا درامه نه يوازې دويده اولس برخليك دي بلکې داسې خوبيولي لا ډير دي کردان ،عراقيان او نور اونور.
او وروسته د داعش په آس سپره شي
هيلې دلته د کومې دجلې لور ده؟
چې تکې شنې ښکې يې په وچه کې لمدې دي
په شنه جيپ کې ليږديږي د نخرو په بهانا
ستومانه سر يې ايښې د ښکارې په زنګانا
او بيا هم دغني خان دخوب شعر:
خوب وينم چې پورته لکه چغه د منصور شومه
يا يو موټې خاؤره وم يا لوی درياب د نور شومه
خو بانګ د سحر اوشو زه راويښ شوم په رکوع شومه
خوب يوړه خوبونه را ژوندئ شوه زمانه
وې پريوزه ليوانيه تيراوه دې جيلخانه
اوهمدارنګه هيلې اوهيلې ګانې ځنګه د خپل وجود او بدن نه جلا کيږي ،قيديږي . زنداني کيږي اوپه ترتيب سره محوه کيږي . اصلا دا سې ځناور لاسبرې شول چې ښځه ،ميرمن ،نجلې او پيغله د خپل شهوت دسړولو يوه متاع بولي نه انسان. دا ځکه چې د دوې مغز اشغال دی نوکله چې دمغز قلمرو اشغال شي ، جوته ده چې دانسانيت بوی هم په کې نه وي . داسې جوتيږي چې دا "ببر مخلوق" لکه چې ميندو نه وي زيږولي . هڅه کوي چې د دې وطن اولس مردانه کړي او له هماغه مردانه وو نه ټول مردانه اوزنانه کارونه واخلي.
اوس نو داسې بريښي اوهغه دپښتو متل هم صدق کوي چې وړی بنيادم په خوب کې څه وينې ؟ " يا دوړې په غوږونو کې تل د ډوډۍ ټپار وي . " هغه خوب يې پوره شو تعبير يې سم را ووت. دوطن انسان ته سزا . وړې ته ښوروا ورسېده . تړې ته شراب ورسېدل هغه چې په اشغال شوې مغز کې يې په کراتو مراتو ځای نيولې و . لنډه دا چې هر هغه څه چې يې په خيال کې راتلل او په افسانو کې يې ليدلې وو اويايې په اشغال شوې مغز کې ورځای شوې وو ، اوس يې عملا وينې ،خوندونه اومزې تړې اخلې.
څوک وايې خوب ارمان پوره کول دي؟
د ښو خلکو اعمالو ته سزا ده
چې تړی وي شراب ورته رسيږي
چې وړی وي ښوروا ورته پريمانه روانړل کيږي
چې پاستو سره يې وخوري
ښوروا نه په کې غوښه ډيره وه
چې څوک په چا مين وي
يوبله ګلالی جلی له کومې خوا پيدا شي
خوله ورکې نابيره
نو داشغال شوې مغزونو له پاره کرونده په مزو بدله شوې ده . روان حالت او دانسان په ژوند کې دترخې درامې چلېدا دخوبونو تعبير اوتفسير دی چې نهه غټې چاغې ميږي دنهو ليوانو خوراك شو . هغه دولس ورونه (ديعقوب اولاده)په ډيران را ټول شوي دي.
اودلته بيا شاعر اسطوره اپوټه بيانوي . عاجز مخلوق لکه ميږه اوس ليوان خوري"
ای خوبه ليونتوبه ددې خوب مانا به څه وي؟
نهه غټې چاغې ميږي
نهه وړي ليوان خوري
د ساينس استاد صنف کی چينکې پخول ښيي
څوک مړ دی، دؤولس ورونه يو ډيران کې را غونډ شوي
چې رنګ رنګ بوتلونه، ، زړې زړې کڅوړې،
لوړ پوندې ښځينه بوټان،
د کوم ځاروي کلمې،
د تيلو ګيلنې خپلو مينځو کې ترکه کړی.
شاعر دپښتو فولك يا فرهنګ مشهور داستاني هيرو يوسف خان ته هم اشاره کوي چې خپله يو نسبتا اساطيرې مفهوم هم دی. هغه اودهغه کردار دخوب مانا کولې شي . هغه چې داکبر باچا دربار کې سردار شو . بيرته کور ته راستون شو چې خپل کلي باندې راج وچلوي . ايا همدا زمور دتيرو دوه لسيزو داستان نه دی چې دی . د اکبر باچا دربار کې سرداري يعنې څه ؟ بس دخپل کلي اشغال.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا خوب به يوسف خان را ته مانا کي
چې ځان يې د تربور له ظلمه بچ کړ
خو چا باندې خرڅ نه شو
سردار شو د اکبر باچا دربار کي
او بيرته کور ته راغې
چې خپل کلی اشغال کړي
دا خوب را ته مانا که يوسف خانه؟
شاعر په خپل اوږده (شعر بلند) کي دقومونو افسانو ته هم اشاره کوي چې اوس هم په کونړونو کي دود اوخوله په خوله ده چې د حاکميت سره جنګ له پاره يې دوزو په غاړو کي اليکينونه اچولي وو . اود يولوي ځواك سره يې جنګ کاوه . په همدې لړ کي شاعر دخپل تخيل مارغه په پوره ځواك اوقوت سره الوزوي . اود اوسني جريان پايله يې مانا لوبه بولي.
لوی شاعر غني خان هم يو مهال په انتقادي توګه يو شعر وېلې دې وايي:
خښتګ دپښتون شليږي پاچا خان ورته ګيندي وهي
ګاندي ليونی شوی دی ،سندا ته سرښندي وهي.
دژوند عبث هلي ځلي او بې مانا دقدرت لوبي هسې يو خوب اوخيال دی . اوپه دې خيالاتو کي کومه مانا نه شي تصور کولي . په دې ډول شعر پای ته رسيږي.
شراب خړې اوبه دي
د غوا شيدې تروې شوې
ځلويښت سرکښي وزې را ښکته شوې د کمره نه
په غاړه يې زنګ نه دی اليکين دی۳
ځلويښت سيلاب زپلی غرو لمنو کی خواره دي
چې کله به سيلاب ورباندې راشي
د خوب مانا دی داده تګاويه
خوبو کي مانا نشته
مانا خوشې چټيات دي پسې مه ګرځه
دنيا کی مانا نشته کوهستانيه
مانا کي مانا نشته
پيدا که سر درو کې د لالونو خزانا
په لار کي به دې هير شي ليونتوب د زمانا
نو خوب وينم عالمه که يې څوك را کړي معنا
نو دادی وروستی خبرې ته را ځو:
شاعر جادو کوي ، کوډې کوي . هغه څه وايي چې تر اوسه لږو ويلي دي . يوازې هغه څوك يې وايي چې پرې پوهيږي خو له خولې اه نه باسي يا خوشحال شي يا غني شي اويا دا شاعر:
شاعر دخپل وطن اوخلکو روانه تراژيدي دطنز اواستعاري په ژبه اوکله هم دخيال او انځورونو په ژبه بيانوي . هغه د لوبې د لوبغاړو ،دمزدورو لوبغاړو داستانونو ته ګوته نيسي . دهغو د نه درايت او خيالي باورونو يادوني کوي چې څنګه يې وطن ،حاکميت او خپلواکي او هر څه دخپل هوس قرباني کړه . لوبغاړو په دې سوچ ونه کړ چې پردی پردی دی"بيګانه بيګانه است برادر "(دقهار عاصي يو شعر ته اشاره) . هغه دځه لپاره راځي اوځه موخې لري ؟ هغه څنګه افراد ګوماري .هغه دخليل زاد خبره چې ويل يې : پريکړه مې وکړه داسې کس ګورم چې سر يې يوازې پنځوس دالره بيه ولري.(دنبيل مسکينيار دتلويزيون يوه مرکه) . اوکله چې په کانتي نينتال کې ګرځي اوناست کسان ګوري په يوه چا لاس ايږدي وايي پيدا مې کړ.
داستان د شاه شجاع له تجربو پيل کيږي اوهغه تجربې له مغلو اخيست شوي دي . دشاه شجاع روح د"کرما "په دود له کلونو کلونو را په دې خوا ديو اوبل په تن کې ځای نيسي. خوشحال بابا هم دا تجربه تېره کړې وه خو کله چې درنتبور له زندانه ازاد شو نو بيا يې په خپل قوم قوي انتقادونه وکړل چې دمخه ورته اشاره وشوه:
ځکه خوشحال بابا دمغلو د چال اوفريب حاکميت ليدلي وو ، نورو راغلو هم دمغلو تجربې نه کار واخيست ، اوراوروسته مغلي حاکميت خو هم دا تګ لاره خپله کړه چې مصنوعي شخصيتونه جوړ کړي په ماجبونو اووړيا پانګه يې وپرسوي او چې کله يې خوښه شي . نوبيا يې په يو لاس دقدرت له ستيڅ نه کښته ګوزار کړي.

پای.

م .کرګر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ